د ح . م . نوزادي ژباړه

# نا مشروع جنګ او د افغانانو ناهيلي

اندرز هنريکسن Anders Henriksen چي دډنمارک دنظامي کادرونو دروزلو په انستيتوت کښي يو جنګي حقوق پوه او سياسي شنونکی دي ، دافغانستان دجنګ په اړه ئي يولړ شنني او څيړني ترسره کړي دي . ده ددغو څيړنو پرنتيجو باندي دخپلي دوکتورا ( ph. d ) د ډګري دپاره تيزس هم ليکلي چي له کبله ئي نوموړی ډګري ترلاسه کړيده . دي په افغانستان کي جنګ يو غير قانوني عمل ګڼي او وايي چي په پيل کولو سره ئي دهيوادونو خپل منځي حقوق تر پښولاندي شويدي . د نوموړي شنونکي دتيزسونو په هکله دوو تنو سياسي څيړونکو لکه Laurits Nansen او Rasmussen Lars Igum يوه ليکنه کړي چي د Nyhedsavjsen پنامه يوي ډنمارکی خبري ورځپاني په ٢١ \ ٥ \ ٢٠٠٧ نيټه د ( ډنمارکي سربازان په يوه غيرقانوني جنګ کي ) تر سرليک لاندي خپره کړيده . لوستونکي کولاي شي دخپلو شننو په موخه دنوموړي ليکني پښتو ژباړه په لاندي کرښو کي ولولي :

امريکائي مقاماتو ترهمدااوسه پوري داخبره په ثبوت نده رسولي چي د ٢٠٠١ کال دسپتمبر د ١١ نيټي په پيښو کښي دافغانستان طالبانو مستقيم لاس درلود، ځکه نو دطلبانو دحکومت په نسکورولوسره دقانون څخه تيری شوي او ډنمارک قواوو پدغه غيرقانوني عمل کښي دامريکايانو سره ونډه اخيستي ده .
ج . ډبليو بوش پرخپل وخت ويلي وه : « هغه څوک چي دتروريستانو کوربه توب کوي بايد جزا ووينې » . ددي خبري سره سم دسپتمبر دپيښو لړ وروسته داکتوبر په ٧ نيټه امريکا خپلي لومړنی ښکاري الوتکي په افغانستان کښي پکار واچولي . پردغو عملياتو باندي ئي د Enduring Freedom ( خلل نه منونکي ازادي . ژ ) نوم کښيښود او موخه ئي دطالبانو دحکومت راپرزول وټاکل . د٢٠٠٢ کال دجنوري څخه ډنمارکي قواووهم پدغه کارکي امريکايانوته اوږه ورکړه .
خو د اندرز هنريکسن په اند دقانون له مخي دوي ددا حق نه درلود وتروريستانوته دکوربه توب په پلمه دطالبانو دحکومت وچپه کولو ته ملاوتړي .
دمستندو مدارکو کمبود :
يوازي پدغه بهانه چي طالبانو وتروريستانو ته پناه ورکړي وه امريکايانو داقانوني حق نه د رلود ددوي رژيم رانسکور کړي . دامريکايانو داکار دهيوادونو دخپل منځي حقوقو سره په هيڅ ډول سمون نه خوري ، ځکه چي په نوموړو حقوقو کښي هغه حالات په ځرګنده ښودل شوي چي کوم وخت هيوادونه يو له بله سره دجنګ کولو حق لري .
د هيوادونوخپل منځي حقوق څه ته وائي ؟
دايولړ ټاکلي پرنسيپونه دي چي هيوادونه ئي بايد دخپل منځي مسئلو په هکله دبيلګي په توګه کله چي دجنګ موضوع ، دبشر دحقونو موضوع او دامنيت موضوع مطرح وي ، په پام کي ونيسي . نوموړي پرنسيپونه دهيوادونو ترمنځ يوبل ته ددرناوي پخاطر دملګرو ملتونو د ١٩٤٥ کال په منشور کي په نښه شويدي ، کوم چي ترددوهم نړيوال جنګ وروسته دنړی هيوادونو ددغه ډول لويو جنګونو دبيا پيښيدودمخنيوي په هيله تصويب کړ . دلته داپريکړه هم وشوه چي هيوادونه يو دبل پر ضد په جنګ لاس نشي پوري کولاي مګر داچي مشروعيت ئي دملګري ملتونه تائيد او دامنيت دشورا اجازه تر لاسه کړي او يا داچي يو هيواددبل هيواد پرضد دخپل ځان ددفاع پخاطر جنګ ته ور ودانګي .

که چيري امريکايانو نړی ته داثبوت وړاندي کړي واي چي طالبانو دسپتمر د ١١ نيټي دعملياتومستقيمه رهبري پر غاړه درلوده ، بيانو دوي داحق درلود چي دحکومت ونسکورولو ته ئي ليڅي را ونغاړي . خو امريکا هيڅکله هم ددا ثبوت وړاندي نه کړاي شو .
ډنمارک حکومت هم پردي نظر ټينګار نشي کولاي چي د Enduring Freedom په عملياتو کښي ددي هيواد دسربازانوونډه اخيستل په يوه قانوني طريقه ترسره شويدي . که څه هم دملګرو ملتونو دامنيت شورا دا پريکړه وکړه چي ددغه سازمان د١٩٤٥ کال دمنشور له مخي امريکا دځان څخه ددفاع کولو حق لري او دسپتمبر دورانونکو پيښو مسئولين بايد حساب ته کښينول شي . مګر پدي پريکړ کښي هيڅ داسي ټکی نشته چي امريکاته دي حق ورکړي تر څو دطالبانو حکومت کوم

دسپتمبر په پېښو کښي ئي دمستقيمي رهبري مسئوليت ثابت شوي ندي ، رانسکور کړي . د نوموړي پريکړي پر بنسټ امريکا يوازي داحق ترلاسه کړ چي القاعده او اسامه بن لادن وځپي.

## ايادهيوادونو خپل منځي حقوق يوه زړه شوي اوله موده لويدلې موضوع ده ؟

اندرز هنريکسن پدي نظر دي چي دايوه پرنسيپي موضوع ده او نړيوال بايد ددي خبري وځرنګه والي ته پام راواړوي چي ايا امريکا يوازي پدغه دليل چي طالبانو وتروريستانو ته پناه ورکړي وه ، داقانوني حق درلود چي دهغوي د حکومت وړانګولو ته اقدام وکړي ؟ ايا دابه پر ځاي کار وي که چيري دمثال په توګه د روسيې دولت دګرجستان حکومت يوازي پدي ګناه رانسکور کړي چي دچيچن وتروريستانو ته پناه ورکوي ؟ اوياهم هندوستان يوازي پدي خاطرداحق درلودلاي شي دپاکستان حکومت راچپه کړي چي هغه و اسلامي بنسټپالو ته پناه ورکوي ترڅو په هند کښي تاکلي هدفونه په نښه کړي ؟ نړيوال بايد دا ټکی په پام کي ونيسي چي دغه ډول خپلسري کارونه دنړی امنيت دګواښ سر ەمخامخ کوي . له دي کبله نو نوموړی څيړونکی ټينګارکوي چي بايدپردي موضوع باندي بحث وشي او داخبره وارزول شي چي ايا دهيوادونو خپل منځي حقوق له موده وتلې يوه زړه خبره ده که څنګه ؟

ديوګوسلاويا سره جګړه ، دطالبانو سره جګړه او دعراق درژيم راپرزول ، داټولې هغه کړني دي چي دهيوادونو ترمنځ دحقوقو سره ورته والی نلري . داچي اوس هم زيات کسان دافکرکوي چي جنګ يو پرځاي عمل دي ، بيانو ضرور ده پدي هکله جدي فکر وشي چي ايا پدغو يادشوو حالاتو کښي دهيوادونو خپل منځي حقوقوته په کومه کچه درناوی شوې دې .

## ايا زموږ سربازان په افغانستان کي څه کوي ؟

دسوسيال دموکرات ګوند غړی او دعدليې پخوانی وزير چي دهيوادونو دخپل منځي حقوقو پروفيسور دي ، دقانون څخه داډول تيری يودپام وړ پرابلم زيږونکی عمل ګڼي چي هيڅکله هم په پارلمان کښي منظم بحث ندي ور باندي شوي . په افغانستان کښي موږ څه کوو ؟ ايا دطالبانو ، القاعدي او يا داولسي وګړو دپراخو پرګنو سره په جګړه اخته يو ؟ داهغه جګړه ده چي زيات قربانيان ئي ملکي وګړي دي . ځکه نوداسوال پدي ارزي چي پوره غور ورباندي وشي . هغه قوانين چي پخپله ئي ټاکو ، بايد هيڅکله ئي هم تر پښو لاندي نکړو .

د( پټ جنګ ) پنامه جوړشوي مستند فلم په افغانستان کي دجنګ نامشروعيت په ډاګه کوي ځکه چي هلته په مختلفو کچو کي دقانون څخه تيری په ګوته شويدې . د Enhedslisten ګوند غړی Frank Aaen وايي چي حکومت بايد پدي هکله جواب ووايي . کله چي مو وغوښته دخارجه چارو وزير او دمحافظه کار ګوند غړې Per Stig Moller څخه پدي هکله پوښتنه وکړو ، هغه مو ونه موند . خو په وزارت کښي چاروواکو راته وويل چي دوي داندرز هنريکسن د دوکتوراتيزس ندي لوستې مګرپه افغانستان کښي ئي ټولې کړنې دهيوادونودخپل منځي حقوقو سره برابري وي او دي .

ديادونې وړده چي په ډنمارک کښي دسياسي ګوندونو يو پراخ ډيره کي لکه چپ ګوند چي دقدرت واګي په لاس کي لري ، محافظه کار ګوند چي په واکمن ائتلاف کښي شيريک دي ، سوسيال دموکرات ګوند ، راډيکال ګوند او دډنمارک دخلګو ګوند دامريکايانو په مشری د Enduring Freedom عملياتو ملاتړ وکړ .

دا وه دنوموړي ليکني پښتو ژباړه چي لوستونکوته وړاندي شوه .

پای